# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل


www.maseerdaily.af

چهارشنبه د ۱۳۹۸ د غويي ۱۷مه | د ۲۰۲۰ د مې شپږمه | ۵۳٦مه ګڼه


## کتاب


۴ مخ

### کاروبار




معمولاً کار پنځوونکي د کار په پيل کې د زياتې انرژۍ درلودونکي وي او غواړي هر څه په ډېرې چټکۍ سره پر مخ بوځي، خو له يو څه وخت وروسته يې پام کېږي، ډېر کارونه شته چې لا يې نه دي تر سره کړي؛ ځکه يا يې وخت نه دی ورته پيدا کړی او يا يې هم د تر سره کولو وړتيا نه لري.

## کرنې وزارت: تر راتلونکو شپږو مياشتو به په هېواد کې په زرګونو سړې خونې جوړې شي



د کرنې وزارت چارواکي وايي، تر راتلونکو شپږو مياشتو به په بېلابېلو ولايتونو کې، زرګونه مميز خونې او د تازه مېوې لپاره سړې خونې جوړې شي.

د ياد وزارت وياند اکبر رستمي وايي چې د کرنيزو محصولاتو د بېړنۍ مديريت د طرحې په چوکاټ کې د صادراتو د نشتوالي په صورت کې به د مېوو د وچولو دستګاوې توزيع او ځينې تازه مېوې او سبزي به په لويو فابريکو کې هم پروسس کېږي.

رستمي زياتويچې د دې پروژې په پلي کېدو سره به ۵۰ سلنه سبزي او مېوې، لکه انګور، انار، منې، زردالو، پياز او کچالو چې پخوا به بهر ته صادرېدل، اوس به په هېواد کې دننه ساتل کېږي او هم به يې له خوسا کېدو مخنيوی وشي. د کرنې او مالدارۍ وزارت چارواکي وايي، حکومت د دغه کار لپاره د اړتيا وړ بودجه د وزارت په واک کې ورکړې ده.

# د رڼا دښمنان او ورانکاره هڅې؛

## د برېښنا شرکت پر تاسيساتو او کارکوونکو پرله پسې بريدونو اندېښنې راپارولې دي



۳

پر برېښنا بريدونه، لاملونه او د يو مسوول حکومت ځواب

۲ مخ

له کرونا وروسته به نړيوال نظم بدل شي

۲ مخ

د چين ګرم ګڼلو پرځای ښه ده چې له ويروس سره نړيواله مبارزه وشي

۵ مخ

## امريکا: له افغان کارګرانو سره د ايراني ځواکونو د وحشيانه چلن په اړه دې جدي پلټنې وشي

وروسته له هغې چې ايراني ځواکونو له افغانستان سره ګډې پولې ته نږدې لسګونه افغان کارګران تر شکنجې او ربړونې وروسته پر سيند لاهو کړل، دې مسئلې پراخ نړيوال غبرګونونه راپارولي دي.

تازه په کابل کې د امريکا سفارت او د امريکا د بهرنيو چارو وزارت يوې چارواکې په جلا جلا بيانونو کې د ايراني پوليسو دغه کار غندلی او په دې اړه يې د جدي څېړنو غوښتنه کړې ده.

افغان چارواکو ويلي چې تر ۷۰ پورې افغان کارګران تېره اونۍ د ايران سرحدي ځواکونو تر وهلو ټکو وروسته هريرود سيند ته غورځولي دي.

د هرات ولايت چارواکو ويلي، له هريرود سيند څخه يې ۱۲ مړي ترلاسه کړي دي.

د امريکا سفارت په خپله ټوېټر پاڼه ليکلي چې په دې اړه د افغان حکومت، مدني ټولنې او خلکو په اندېښنو کې شريک دی او د دغه وحشت په اړه دې جدي پلټنې وشي.

تر دې مخکې د مرکزي او جنوبي اسيا لپاره د امريکا د بهرنيو چارو وزارت سرپرست مرستيالې اليس وېلز پر خپل ټوېټر ليکلي: «هغه راپورونه چې پکې ادعا شوې ايران له افغان پناه غوښتونکو سره ظالمانه چلند کړی، وحشتناک دي».

په ورته وخت کې د افغانستان د بهرنيو چارو وزارت وايي چې د دې پېښې په تړاو له ايراني چارواکو سره ګډې څېړنې پيلوي.

د يادونې ده چې د ايران د بهرنيو چارو وزارت د دغو راپورونو په غبرګون کې ويلي چې دغه پېښه د افغانستان په خاوره کې دننه شوې او د ايران سرحدي ځواکونه پکې لاس نه لري.

## په افغانستان کې د سولې هوکړې د پلي کېدو لپاره له ټولو اړخونو سره له نږدې کار کوو



۵ مخ

## صديقي: در مذاکرات برای حل بحران سياسی با تيم ثبات‌وهمگرايی پيشرفت صورت گرفته است




با گذشت نزديک به دو ماه از برگزاری مراسم تحليف همزمان محمداشرف غنی و عبدالله عبدالله، اکنون اميدواری‌ها به توافق هر دو طرف بيشتر شده است.

پس از آن که کميسيون انتخابات محمداشرف غنی را برندۀ انتخابات رياست جمهوری اعلام کرد، عبدالله عبدالله رقيب وی آن را نپذيرفت و خودش را برندۀ انتخابات اعلام کرد.

اکنون پس از فشارهای ملی و بين‌المللی و کاهش کمک‌های امريکا به دليل عدم توافق هر دو طرف برای ايجاد حکومت فراگير، هر دو طرف از اميدواری به احتمال توافق خبر می‌دهند.

عبدالله عبدالله، رهبر تيم انتخاباتی ثبات و همگرايی چند روز پيش در صفحه فسبوکش نوشت که به صورت اصولی توافق صورت گرفته و کار بر سر جزئيات ادامه دارد.

اکنون صديق صديقی، سخنگوی ارگ رياست جمهوری می‌گويد که در مذاکرات هر دو طرف پيشرفت‌های چشم‌گيری صورت گرفته است: «گفت‌وگوها جريان داشته و پيشرفت‌های هم صورت گرفته است، اما در حال حاضر دشوار است که روی جزئيات آن صحبت کنيم تا اين که جزئيات نهايی شود.»

به گفتۀ آقای صديقی، جزئيات توافق هر دو طرف پس از نهايی شدن آن با رسانه‌ها و مردم شريک می‌شود.

اميد ميثم، معاون سخنگوی عبدالله عبدالله هم می‌گويد که در روزهای گذشته مذاکرات با پا در ميانی شماری از بزرگان سياسی پيشرفت‌هايی هم به دست آمده است.




## درېځ

### پر برېښنا بريدونه، لاملونه او د يو مسوول حکومت ځواب

په تېرو څو ورځو کې د برېښنا پر ستنو او د دغه شرکت پر کارکوونکو بې ساري بريدونه شوي دي. که څه هم د برېښنا پر ستنو پخوا هم بريدونه شوي وو، خو دا ځل بريدونه متفاوت، سيستماتيک او زيات دي. يو بل توپير دا هم دی چې دا ځل د برېښنا شرکت پر کارکوونکو هم بريدونه شوي دي او هغه کارکوونکي په نښه شوي چې نړول شوې ستنې يې رغولې. په دغو بريدونو کې څو کسان ټپيان شوي او په پروني بريد کې د پروان د برېښنا سوداګريز مرستيال هم شهيد شوی دی. تر اوسه هېڅ چا د دغو بريدونو مسووليت نه دی اخيستی او حکومت هم تر اوسه څوک په دغو بريدونو کې پر لاس لرلو نه دي ترون کړي. څو ورځې وړاندې امنيتي ځواکونو هغه شپږ کسان هم نيولي وو چې د برېښنا يوه لويه ستنه يې نړولې وه، خو حکومت لا هم نه دي ويلي چې دغو کسانو ولې دا کار کړی او له چا سره يې اړيکي لرلې. خو د برېښنا پر ستنو او کارکوونکو بريدونه څوک کوي او څه غواړي؟

د برېښنا ستنې تر دې وړاندې د متفاوتو لاملونو له مخې په نښه کېدلې. کله به د طالبانو او حکومت ترمنځ په جګړه کې تخريب شوې، چې حکومت به طالبان ګرمول، خو طالبانو تل دا ډول ادعاوې رد کړې دي. د دې تر څنګ په ځينو سيمو کې غله او باج اخيستونکي وو چې له برېښنا شرکت څخه به يې د باج اخيستو هڅه کوله، چې د مماتي سالنګ په نامه يو باج اخيستونکی يې ښه بېلګه ده. د دې تر څنګ داسې هم ويل کېدل چې د تېلو مافيا وخت ناوخته په دغو بريدونو کې ښکېله وي. ځيني کسان اوس هم د تېلو د مافيا خبرې کوي؛ ځکه چې تېل په بې ساري ډول را لوېدلي دي. په افغانستان کې يې هم بيه کمه شوې ده او سم باراز هم نه لري، خو دا ځل ستونزه يو څه متفاوته ښکاري. د تېلو مافيا کولی شي، د برېښنا پر ستنو بريدونه وکړي، خو په دومره کم وخت کې، دومره زيات بريدونه ورته ستونزمن دي. بيا دا خو ورته بيخي ستونزمنه ده چې له دې بريدونو سره هممهاله د برېښنا شرکت پر هغو کارکوونکو هم چاودنې وکړي چې د دغو ستنو د رغونې لپاره سيمې ته تللي وي. داسې ښکاري چې دا چاره دې له وروستيو سياسي کړکيچونو سره تړلي وي. په داسې حال کې چې اشرف غني او عبدالله سره جوړېږي، ځينې کړۍ له دې چارې ناراضه دي. له دغو کړيو سره په کابل، پروان او ځينو نورو ولايتونو کې ځيني جنګسالاران، جنايتکاره ډلې او غله شته چې ښکاري دا کړۍ يې پر مټ دغه بريدونه کوي. دوی ښايي غواړي له دې لارې په کابل کې په سياسي معادلاتو کې خپل ځای پيدا کړي او په دې ډول باج واخلي.

دا يوه چټله لوبه ده چې کثيف او مافيايي سياستوال يې کاروي. دوی د خلکو د ژوند د تياره کولو له لارې غواړي خپلو موخو ته ورسيږي. له بده مرغه حکومت هم ډېری وخت له دغو کړيو سره معاملې کړې دي، نو ځکه دوی دغه کار تکراروي. که په کابل کې يو مسوول او ريښتينی حکومت وي، نو له دغو جنايتکارانو سره به معامله متفاوته وه. د دوی پر ضد به په سرعت سره امنيتي ځواکونه کارول شوي وو، ورپسې به عدلي او قضايي ارګانونو په چټکۍ سره قانون عملي کړی وای او ژر به خلکو د دغو جنايتکارانو او د دوی د ملاتړو مړي د برېښنا پر ستنو را ځړېدلي، ليدلي وای.

# د نفتو بازار بې مخينې سقوط؛

## کرونا او د بيو ټيټېدو د انرژۍ بازارونه له بحران سره مخ کړي دي

ليکوال: ډانيل يارجين / ژباړن: جواد تيموري

د کرونا ويروس له کبله په نړيوال بازار کې په بې مخينې ډول د نفتو بيې رالوېدلي دي. د نفتو او ګازو د صنعت بيې چې د نړۍ د ټولې انرژۍ نږدې ۶۰ سلنه برخه جوړوي، روان کال دومره راټيټې شوې چې پخوا يې ان لا تصور هم نه کېده. هغه هېوادونه چې د نفتو د توليد په بازار کې لويه ونډه لري، ښايي پر کرونا سربېره له داسې سخت اقتصادي رکود سره مخ شي چې له دويمې نړيوالې جګړې وروسته يې تر اوسه ساری نه ليدل کېږي. د بيو له ټيټېدو سربېره به په بازارونو کې تقاضا هم د پخوا په پرتله څو چنده راټيټه شي.

په نړۍ کې د نفتو قيمتونه د ۲۰۲۰ ز کال له پيل راپه دې خوا ورځ تر بلې د ټيټېدو په حال کې دي چې ښايي دغه بيې به نورې هم راولوېږي. په ورته وخت کې به په هغو سيمو کې چې له نفتو د ګټې اخيستنې اړتيا نه ليدل کېږي، ښايي د هر بېرل نفتو قيمت ان صفر ته راټيټ شي. د نفتو د بازار روان وضعيت به صادروونکو هېوادونو ته نوې ستونزې راپورته کړي او د دغو هېوادونو اقتصادونه به له سخت رکود سره مخ شي.

په دې سره به صادروونکي هېوادونه پر امريکا فشار راوړي چې د روان وضعيت د کابو کولو لپاره لاس پر کار شي او دا به امريکا او د امريکا د بهرنۍ پاليسۍ لپاره نوی سرخوږی وي. په ورته وخت کې د روان کال په فبروري کې په امريکا کې هم د نفتو توليد د بل هر وخت په پرتله تر ټولې لوړې کچې ته رسېدلی دی. امريکا په دې وروستيو کې په ورځني ډول د خپلو نفتو د توليد کچه ميليونونو بېرلو ته رسولې چې تر سعودي عربستان او روسيې وروسته دا په نړيواله کچه تر ټولو لوړ شمېر دی. امريکا په دې سره هڅه کوي چې په کور دننه د نفتو توليد ډېر کړي او په دې سره په بهرنيو هېوادونو خپله تکيه راکمه کړي. د امريکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ غواړي چې امريکا د نفتو له کبله د نړۍ تر ټولو ستر واردوونکي هېواد له حالت څخه راوباسي. که څه هم ټرمپ د بيو له راټيټېدو هرکلی کړی، خو د دغه وضعيت دوام به امريکا ته هم ناوړه پايلې ولري.

ټرمپ په دې وروستيو کې د روسيې پر ولسمشر ويلاديمير پوتين هم غږ وکړ چې د روان «ناوړه» وضعيت د کنټرول په اړه ورسره خبرې وکړي. په ورته وخت کې نوموړي د سعودي له وليعهد محمد بن سلمان سره تر خبرو وروسته وويل چې د نفتو د توليدوونکو هېوادونو ترمنځ ناهمغږۍ روان وضعيت رامنځته کړی دی. سعودي بيا هڅه کوي چې د اوپېک سازمان او د نفتو د نورو لويو توليدوونکو هېوادونو لکه کاناډا او مکسيکو په مرسته بېرته بيې لوړې کړي، خو په دې اړه د يوې هوکړې او ګډ غږ څرک نه ليدل کېږي.

په ټوله کې روان پاشلي وضعيت او جيوپوليټيکي نښتو د امريکا لپاره نوې ننګونې راپورته کړې چې د امريکا اقتصاد او بهرنۍ سياست يې له جدي ګواښ سره مخ کړی دی.

د نفتو د نوې غوښتنې پای

د صنعت د نورو برخو په څېر، د کرونا ويروس چټکتيا او پراختيا د نفتو پر بازارونو کې هم غوغا رامنځته کړې ده. د نفتو بيې په ۲۰۱۴ ز کال کې د لوړې عرضې له کبله ډېرې راولوېدې چې بيا وروسته په ۲۰۱۶ ز کال د اوپېک سازمان او نړيوالو په مرسته دغه وضعيت کنټرول شو او په دې اړه نوې سپارښتنې وشوې. هغه مهال د اوپېک سازمان ۱۱ غړو او نورو هېوادونو ترمنځ هوکړه وشوه چې د نفتو د توليد کچه به راکموي او په دې سره به د بيلو د رالوېدو مخه نيسي.

اوپېک سازمان چې د عربستان- چين پر محور راڅرخي او د نفتو دغه دواړه ستر توليدوونکي او رقيب هېوادونه يې له يو بل سره ګډې همکارۍ ته هڅولي، په دې سره روسيې ته دا فرصت هم په لاس ورغلی چې په منځني ختيځ کې د امريکا له تر ټولو لوی متحد سعودي سره خپلې ستراتېژيکي اړيکې پراخې کړي او د سعودي پانګونې هم خپل هېواد ته راجلب کړي. سعودي هم له ايران سره د ستونزو له کبله له دغه وضعيت ګټه پورته کوي او هڅه کوي چې له امريکا او روسيې سره په ګډه د نفتو توليد زيات کړي او په دې سره د ايران اقتصاد کمزوری کړي.

خو د کرونا ويروس د لومړي پړاو په پيل سره دا هر څه ګډوډ شول. چين چې د نفتو د ودې لپاره تر ټولو لوی نړيوال بازار دی، له يولړ محدوديتونو سره مخ شو. ترڅنګ يې په نړۍ کې هم د تقاضا د ډېرېدو پرځای دغه بهير د ټيټېدو پر لور ولاړ. د شمېرو له مخې، د روان ۲۰۲۰ ز کال په لومړيو دريو مياشتو کې د نفتو د تقاضا کچه په منځني ډول شپږو ميليونو بېرلو ته رالوېدلې چې دا کچه د نفتو د تقاضا په برخه کې د پام وړ کموالی په ډاګه کوي.

د مارچ مياشتې په پيل کې په اوپېک، اوپېک پلس، سعودي او روسيه کې د وضعيت د کنټرول په تړاو ناستې هم وشوې، خو د دغو هېوادونو او سازمانانو نظرونه تر ډېره سره پاشلي او لرې وو او په دې اړه کومې پرېکړې ته ونه رسېدل. سعودي او روسيې په دې تړاو تر ټولو متفاوت نظرونه درلودل، سعودي وړانديز وکړ چې د نفتو توليد بايد تر يوې مودې راټيټ شي، خو روسيې بيا برعکس د توليد پر ډېرېدو ټينګار کاوه چې په دې سره نوې هوکړه ونه شوه او غړي هېوادونه پر دې سلا شول چې تر جون پورې به د پخواني تړون پر بنسټ مخکې ځي او په جون کې به وضعيت ته په کتو بيا سره جرګه کېږي.

د توليد پرسر سيالي

سعودي عربستان له دې ناستې وروسته اعلان وکړ چې که د نفتو ټول توليدوونکي هېوادونه په خپل توليد کې کموالی رانه ولي، دوی به له ټولو لارو چارو کار واخلي. سعودي په همدې موخه په ورځني ډول د خپلو په توليد کې ۲.۵ ميليونه بېرله زياتوالی راوست چې په دې سره يې په ورځني ډول د ټول توليد کچه ۹.۷ ميليون بېرله نفتو ته ورسوله. د سعودي دې چارې په نړۍ کې د نفتو د بيو په ټيټوالی کې د پام وړ اغېز درلود. په ورته وخت کې د روسيې هم د سعودي دغه اقدام ته په ځواب




کې په خپل توليد کې په ورځني ډول د درې لکه بېرلو د زياتوالي اعلان وکړ چې په دې سره اوسمهال تر ډېره د نفتو لوی توليدوونکي هېوادونه په خپلو کې پر سيالۍ بوخت دي او له کبله يې د نفتو بازارونه په بې مخينې ډول راولوېدل.

کله چې کرونا ويروس د چين له پولو ووت او نورې نړۍ ته خپور شو، په دې سره يې نوی پړاو ځانته خپل کړ. له همدې کبله په ټوله نړۍ کې د نفتو تقاضا هم په بې ساري ډول راټيټه شوه. د شمېرو له مخې په اپرېل کې د نفتو د تقاضا کچې نږدې ۲۰ سلنه راټيټه شوې ده.

که روان وضعيت په همدې ډول دوام وکړي، دوه امکانه وجود لري؛ يا به توليدوونکي هېوادونه د توليد کچه ډېره راټيټوي او يا به هم د نفتو ارزښت په نړيوال بازار کې ورځ تر بلې خپل ارزښت له لاسه ورکوي چې دا د ځينو هېوادونو لپاره ښه خبر نه دی.

روسيه او عربستان د نفتو لوړ ظرفيت ته په کتو، په ډېر کم قيمت هم د نفتو توليد وړتيا لري، خو نورو توليدوونکو هېوادونو ته بيا دغه څه په لوړه اقتصادي بيه تمامېږي، نو له همدې کبله ښايي ډېری شرکتونه له سقوط سره مخ شي چې په دې ډله کې متحده ايالتونه هم راځي. په پايله کې به دې ته اړ شي چې په نړيوال بازار کې خپله ونډه د نورو په ګټه پرېږدي. د روسيې د روسنېفټ شرکت(چې د روسيې نږدې ۴۰ سلنه نفت توليدوي) اجرايوي مشر اېګور سيچين وايي، چې توليدوونکي هېوادونه بايد د ۲۰۱٦ ز کال شوي تړون ته ژمن پاتې شي. هغه وايي: «که په بازار کې مو يوځل ونډه له لاسه ووتله، بيا به يې هېڅکله هم ترلاسه نه شی کړای.

د متحده ايالتونو د نفتو توليدوونکي همدا اوس هم تر ډېر فشار لاندې دي، دوی هره ورځ خپله بودجه کموي چې ښايي بيخي په ټپه ودرول شي. د IHS مارکېټ د نوې محاسبې له مخې، د روان کال تر پايه به د امريکا د نفتو توليد درې ميليونه بېرلو ته راولوېږي، چې په بدل کې به يې له سعودي او روسيې د وارداتو په کچه ډېروالی راولي. ټاکل شوې وه چې امريکا به د نفتو د توليد د کچې په ډېروالي سره ۲.۵ ميليونه نوې دندې هم رامنځته کړي، خو دا هرڅه اوس له لاسه وتونکي بربښي.

پراخ بازار

ايا د نړيوال بازار د ثبات لپاره بله لاره هم پاتې ده؟ په بازار کې د ونډې پر سر د اوسني کشمکش کموالی کولی شي چې د بازار پر روان اغېز وکړي او تر يوې کچې بېرته بيې کنټرول شي. البته دا هغه څه دي چې يوازې به د زيات توليد ستونزه حل کړي، خو نورې ستونزې به پرځای پاتې وي.

خو دغه ثبات ته د رسېدو لارې چارې يوه بله د بحث وړ او پېچلې موضوع ده. خو سعودي د دې پرېکړې لپاره يوه بله لاره هم لري. هغه دا چې د G_۲۰ هېوادونو سرمشريزې د اقتصادي ستونزو د حل په موخه هوکړه کړې ده. که څه هم د ۲۰۰۸ او ۲۰۰۹ ز کال د مالي بحران پرمهال جي- ۲۰ هېوادونو سرمشريزې تر ډېره په سمه توګه خپل رول ادا نه کړ، خو دا ځل يې د ډېرې مرستې او همکارۍ ژمنه کړې ده.

خو د متحده ايالتونو لپاره په کور دننه کې هم ځينې محدوديتونه راپورته شوي دي. د امريکا د کانګرېس هغه غړي چې پر رياض د وسلو د پلورلو ملاتړي دي، اوس غواړي چې د امريکا او سعودي عربستان ترمنځ ټولې اړيکې بايد د نفتو د نړيوال سياست پر بنسټ وي. د امريکا د کانګرېس ۱۳ جمهوري غوښتونکو سناتورانو د سعودي عربستان وليعهد محمد بن سلمان ته په استولي ليک کې د نفتو په برخه کې د سعودي له پاليسۍ( د توليد د ظرفيت لوړول او د بيو ټيټوالی) خپله ناخوښي ښودلې ده. د دغو سناتورانو له ډلې يې شپږو تنو چې د کانګرېس د مسلح خدماتو مشر هم پکې دی، په يو پرانيستي ليک کې ويلي، چې د روان وضعيت په دوام کې به د امريکا او سعودي ترمنځ د دفاعي همکاريو پراختيا او ساتل ستونزمن وي. په ورته وخت کې د متحده ايالتونو دولت په کور دننه ځينې نور محدوديتونه هم لري. واشنګټن د مسکو او رياض خلاف، خپلو کمپنيو ته ووايي چې څومره نفت بايد توليد کړي.

له دې ټولو سره به په راتلونکو اونيو کې د نفتو له کبله رامنځته شوی بحران نور هم ناوړه وضعيت پر لور ولاړ شي او په دې سره به د تقاضا کچه ورځ تر بلې په ټيټېدو شي.

ښايي يو علت يې هم د نړۍ په بېلابېلو برخو کې د کرونا ويروس پراختيا وي، خو يو علت يې د توليدوونکو هېوادونو پر روان سياست او د نړيوال ثبات پورې هم اړه لري. خو عمده برخه يې د کرونا له کبله په بازار کې په ټپه درېدلي حالت رامنځته کېدل دي چې په دې سره به د نړيوال اقتصاد له سخت رکود سره مخ شي.

لیکنه: هنري کیسینجر
ژباړه: حمیدالله حمیدي
سرچینه: وال سټریټ ژورنال

# له کرونا وروسته به نړیوال نظم بدل شي

د کرونا خطر او وېرې د امریکا د سیاست فیلسوف، د پخوانیو ولسمشرانو ریچارد نیکسون او جرالد فورد په دوو دورو کې کار ځپلی دیپلومات او د دغه هېواد د معاصر تاریخ تر ټولو وتلي سیاسي نظر ورکوونکې څېره هنري کیسینجر هم را بیدار کړی، څو له کرونا وروسته د نړیوال نظم د بدلون او گواښونو په اړه خپل نظر څرگند کړي او خلکو ته د خطر خبرداری ورکړي. کسینجر وړاندوینه کړې چې له کرونا څخه پېښېدونکی سیاسي او اقتصادي بحران به د ډېر وخت لپاره او ان تر راتلونکي نسل پورې دوام وکړي.

د امریکا دغه سیاسي نظر ورکوونکې څېرې د کرونا ویروس له کبله د ملتونو تر منځ د اړیکو د خړپړ کېدو او د سیمې او نړۍ په کچه د ټولنیزو پیوندونو د له منځه تلو خبرداری هم ورکړی دی. نوموړي له کرونا ویروس سره د مبارزې په برخه کې د امریکا د ولسمشر ډونالډ ټرمپ هڅې ستایلې او زیاته کړې یې ده: « یو نوی نړیوال نظم د جوړېدو په حال کې دی او د امریکا متحده ایالات باید له کرونا ویروس سره د مبارزې تر څنگ د نوي نړیوال نظم جوړېدو ته هم پوره تیاری ولري.»

د امریکا د بهرنیو چارو دغه پخواني وزیر هنري کیسنجر (وال سټریټ ژورنال) ته په یوه مقاله کې لیکلي، د نړۍ په کچه د کرونا ویروس خپرېدل به نړیوال سیستم او نظم ته په کلي ډول بدلون ورکړي.

نوموړي په خپله مقاله کې لیکلي، د (کووېډ-۱۹) نړیوال کېدل د (آردنن) جگړې پر مهال په (۸۴ ام پیاده) لښکر کې د یوه ځوان په توگه د گډون وخت را په یادوي. اوس مې هم لکه د (۱۹۴۴ز) کال په وروستیو کې په زړه یوه ځانگړې وېره خوره شوې ده. هغه وخت کېدای شوای چې یو کس په نښه شوای وای او یا هم یوه ډله، خو اوس ټول بشریت په خطر کې دی. د هغه او اوسني وخت تر منځ توپیر دا دی، چې هغه وخت موږ د امریکا په کچه د یوې وروستۍ او ملي موخې لپاره جنگېدو، خو اوس باید ټول پر یوې بې مخینې او د نړۍ په کچه پر یوې لویې ستونزې غلبه وکړو، عمومي باور خپل کړو، له یو او بل سره ټولنیزې اړیکې وساتو او نړیوالې سولې او ثبات ته کار وکړو.

کیسینجر وړاندې لیکي: «ملتونه په دې باور دي او په دې برخه کې په یوه خوله دي، چې کېدای شي دولتونه یې د بحران رامنځ ته کېدو وړاندوېینه وکړي او اغېز یې کم کړي، خو کله چې (کووېډ ۱۹) پای ته رسېږي، تاسو به وگورئ، چې د پیاوړو هېوادونو ډېری بنسټونه به له منځه تللي او ډېری هېوادونو به ماتې خوړلې وي. له کرونا ویروس څخه رامنځ ته شوی زیان کېدای شي موقتي وي، خو سیاسي او اقتصادي بحران به تر راتلونکي نسل پورې دوام کوي.»

د امریکا د بهرنیو چارو دغه پخوانی وزیر زیاتوي، کرونا ویروس په نړیواله کچه د خپرېدو په حال کې دی. خپرېدل یې هم تصاعدي دي؛ داسې چې په امریکا کې په هرو پنځو ورځو کې پر دغه ناروغۍ د اخته کېدونکو کسانو شمېر دوه برابره کېږي. د ناروغۍ ددې لویې څپې د مخنیوي لپاره طبي توکي کفایت نه کوي او له ناروغانو څخه د ځانگړې مراقبت ځایونه ډک شوي دي. که څه هم هره ورځ په دې برخه کې نوې څېړنې کېږي، څو د ناروغۍ د خپرېدو کچه راټیټه کړي، خو بیا هم دا هر څه په نشت حساب دي. دا په داسې حال کې ده چې ویل کېږي له کرونا ناروغۍ څخه د مخنیوي واکسین جوړېدل له ۱۲ تر ۱۸ میاشتو وخت نیسي.

هنري کیسینجر لیکي، دا سمه ده چې د امریکا دولت له کرونا ناروغۍ سره تر خپلې وسې مبارزه کړې ده، خو وروستۍ ازموینه به ورته دا وي چې آیا امریکا کولای شي ویروس کنټرول کړي او عمومي باور تر لاسه کړي. دې ته باید جدي پاملرنه وشي، خو دغه مبارزه باید موږ له اصلي موخې او دندې چې له کرونا وروسته په موازي ډول نوي سېستم ته ور داخلېدل دي را ونه گرځوي.

دی زیاتوي چې رهبران په ملي کچه له بحران سره مقابله کوي او له دې ویروس سره سروکار لري، خو ددغه ویروس وېجاړوونکې پایلې هېڅ ډول پولې نه پېژني. په داسې حال کې چې زه هیلمن یم د انسانانو پر روغتیا باندې به دغه حمله موقتي وي، خو له دې سره سره ویلای شم له کرونا وروسته سیاسي او اقتصادي بحران بیا هم تر بل نسل پورې دوام کولای شي. هېڅ هېواد ان د امریکا متحده ایالات هم نه شي کولای ددغه ناورین مخه ونیسي، بلکې ددغه بحران د مخنیوي لپاره نړیوالې همکارۍ ته اړتیا ده. که موږ په شریکه له دې حالت څخه د وتلو لپاره کوښښ ونه کړو، نور ډېر ناوړه حالت به تجربه کړو. کیسینجر له امریکا غوښتي چې په نړیواله کچه له کرونا ناروغۍ څخه د پېښېدونکو گواښونو سره د مبارزې لپاره باید په درېیو اصلي ټکو تمرکز وکړي:

اول: د عفوني ناروغیو د مخنیوي لپاره باید د نړۍ په کچه د علمي څېړنو بنسټونه قوي او پراخ کړي. د طبي څېړنو په پایله کې د اطفالو فلج د مخنیوي او نورو ناروغیو لپاره د واکسین جوړېدل یوه لویه لاسته راوړنه وه، چې اوس یې نیږدې له ټولې نړۍ څخه دغه لا عالجه ناروغۍ ورکې کړې دي، خو تر څنگ یې باید د نویو تخنیکونو او نوې تکنالوژۍ پر مټ د نورو ناروغیو لپاره هم ددغه ډول واکسینونو جوړولو هڅې وشي.

دویم: هڅه باید وشي چې نړیوال اقتصادي ټپونه جوړ او د لا ژورېدو مخه یې ونیول شي. د نړۍ رهبرانو د ۲۰۰۸ کال له مالي بحران څخه کافي زده کړه کړې ده، خو اوسنی ناورین تر هغه ډېر پېچلی دی. له کرونا ناروغۍ څخه را ولاړېدونکې ستونزې د بشر په تاریخ کې له بلې هرې پېښې ډېرې ژورې، پراخې او چټکې رامنځ ته کېدونکې دي. د عمومي روغتیا ستاتنې او اقتصادي ضربې د مخنیوي لپاره د راټولېدنو مخنیوی، د پوهنتونونو او ښوونځیو رخصتېدل او نورو ورته اقداماتو تر سره کول گټور دي، خو تر څنگ یې د گډوډیو د مخنیوي لپاره هم باید کافي تدابیر په پام کې ونیول شي. او درېیم هم د لیبرال نړیوال نظم او اصولو څخه ساتنه.

کیسینجر په پای کې لیکي، موږ له «آردنن» جگړې وروسته ورځ تر بلې ځلېدونکې او له انساني کرامت څخه د ساتنې یوې ډکې نړۍ ته ورسېدو، خو ننني ننگونه داسې ده چې د بحران مدیریت او د راتلونکې جوړول دواړه پر یو ځای مخ ته راغلي دي او په دې حالت کې ماتې خوړل به نړۍ په اور کې وسوځوي.

# د رڼا دښمنان او ورانکاره هڅې؛

## د برېښنا شرکت پر تاسیساتو او کارکوونکو پرله پسې بریدونو اندېښنې راپارولې دي



په هېواد کې د گڼو ستونزو تر څنگ یوه هم د برېښنا مسئله ده. سره له دې چې د هېواد لوړه سلنه برېښنا له گاونډیو هېوادونو وارېدېږي، خو په دې وروستیو کې د وارداتي برېښنا پر پایو پرله پسې بریدونه کېږي. په وروستیو څو ورځو کې نه یوازې دا چې د برېښنا پر تاسیساتو او پایو بریدونه کېږي، بلکې د دغه شرکت پر کارکوونکو هم بریدونه او چاودنې شوې دي. په تېرو دوو ورځو کې په کابل او پروان کې د برېښنا شرکت پر کارکوونکو چاودنې شوې چې دې مسئلې اندېښنې پارولې دي.

د هېواد د ډېرو ولایتونو برېښنا د شمالي ولایتونو له لارې وارېدېږي، خو له بده مرغه په لاره کې د جگړو او نښتو له امله ډېری وختونه د برېښنا تاسیساتو او پایو ته زیان اوړي چې په شپو شپو، ان کله په اونیو هم د کابل او څو ولایتونو برېښنا پرچاو وي. په دې وروستیو کې له جگړو ورهاخوا داسې ښکاري چې په پلان شوې توگه د برېښنا شرکت پر تاسیساتو او پایو باندې بریدونه کېږي. په تېرو څو ورځو کې په کابل او پروان کې د برېښنا شرکت پر پایو درې بریدونه شوي دي. د برېښنا یوه پایه په چمتله کې په چاودېدونکو توکو والوځول شوه، څو ورځې وروسته د چمتلې له سب ستېشن سره څېرمه بله پایه والوځول شوه خو چپه شوې نه ده، ورمه شپه بیا په پروان کې دوې پایې له لرې په راکټ وېشتل شوې چې زیانمنې شوې وې، خو چپه شوې نه وې.

سره له دې چې وسله وال طالبان د دغه بریدونو مسوولیت نه مني، خو داسې ښکاري چې دغه بریدونه د یوه منظم پلان له مخې ترسره کېږي. اوس تازه وسله والو د برېښنا شرکت پر کارکوونکو هم بریدونه پیل کړي دي. د برېښنا انجنیرانو چې کله د چمتلې له سب ستېشن سره زیانمنه شوې پایه رغوله، چاودېدونو توکو چاودنه وکړه او د دغه شرکت څلور کارکوونکي پکې ټپیان شول. له دې ډلې د دوو انجنیرانو روغتیایي وضعیت ترینگلی ښودلی شوی و. څو ساعته وروسته په همدې سیمه کې درېیمه چاودنه هم کېږي، خو چا ته پکې زیان نه اوړي.

ورمه شپه بیا په پروان ولایت کې د ولایت مقام د دیواله شاته په گلغونډۍ سیمه کې د برېښنا دوې پایې ویشتل کېږي. پرون په پروان کې د برېښنا شرکت ځایي مسوول او انجنیران د پایو ترمیم ته ورځي چې د ماین ښکار گرځي او له امله یې په پروان کې د برېښنا شرکت عملیاتي مرستیال وژل کېږي او څو کسه نور ټپیان کېږي. د افغانستان برېښنا شرکت دغه مسئله د جدي اندېښنې وړ بولي او پر حکومت غږ کوي چې ژر تر ژره دې د دغو پېښو عاملین ونیسي او د برېښنا پر وړاندې د سیستماتیکې دښمنۍ مخه دې ونیسي.

له دې سره هممهاله پرون د برېښنا شرکت لپاره نوی رییس معرفي شوی دی. د برېښنا شرکت نوي رییس داوود نورزي ژمنه کړې چې دغه شرکت به په یوه باوري شرکت بدلوي او په خبره یې هڅه یې دا ده چې د افغانستان د برېښنا لپاره د ولسمشر غني برنامې پر وخت او سمې عملي کړي. نوموړي ژمنه کړې چې د برېښنا شرکت د کارکوونکو ساتنه به کوي او د دوی د کار پر وړاندې شته خنډونه به له منځه وړي.

په افغانستان کې د برېښنا پر تاسیساتو د بریدونو په اړه څه موده وړاندې امریکایي دیپلوماتانو هم غبرگون ښودلی و. د جنوبي او مرکزي اسیا لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت مرستیالې الیس ویلز ویلي وو چې پر عامه تاسیساتو او برېښنا پایو د وسله والو بریدونه په کلکو ټکو غندي.

افغان حکومت که څه هم تر اوسه په دې تور د ځینو کسانو د نیولو خبره کوي، خو لا بریالی شوی نه دی چې د برېښنا پر تاسیساتو د وسله والو بریدونو مخه ونیسي. امنیتي سرچینې وایي چې دوی خپلو پلټنو ته ادامه ورکوي او هڅه کوي د دغو پېښو عاملین د قانون منگولو ته وسپاري.

# د کرونا تازه شمېرې؛

## برېټانیا د دغه ویروس د قربانیانو له پلوه د اروپا لومړی او د نړۍ دویم مخکښ هېواد شو



د راپورونو له مخې، په ټوله نړۍ کې د کرونا ویروس له کبله د مړو شمېر له ۲۵۵ زرو کسانو اوښتی دی. د تازه شمېرو پر بنسټ د دغه ویروس د مثبت پېښو شمېر کابو ۳.۷ میلیونو ته رسېدلی او نږدې ۱.۲۲ میلیونه کسان ترې بېرته رغېدلي دي.

امریکا لاهم د کووېډ- ۱۹ ویروس د زیاتو قربانیانو او پرې د اخته کسانو له پلوه په نړۍ کې تر ټولو مخکښ هېواد دی. له امریکا وروسته دغه ویروس په برېټانیا کې په تېرو ۲۴ ساعتونو کې ډېر کسان مړه کړي او د نویو شمېر پر بنسټ، دغه هېواد له ایټالیا او اسپانیا مخکې شوی، چې د قربانیانو له پلوه په اروپا کې لومړی او په ټوله نړۍ کې دویم مخکښ هېواد شو.

د تازه شمېرو پر اساس، په امریکا کې د کرونا مثبت پېښو شمېر یو میلیون او ۲۲۴ زره او ۵۷۰ او د مړو شمېر بیا ۷۱ زره او ۱۴۸، په برېټانیا کې د مثبت پېښو شمېر ۱۹۴ زره او ۹۹۰ او د مړو شمېر ۲۹ زره او ۴۲۷، په ایټالیا کې د مثبت پېښو شمېر ۲۱۳ زره او ۱۳ او د مړو شمېر ۲۹ زره او ۳۱۵، په اسپانیا کې د مثبت پېښو شمېر ۲۵۰ زره ۵۶۱ او د مړو شمېر ۲۵ زره او ۶۱۳، په فرانسه کې د مثبت پېښو شمېر ۱۶۹ زره او ۴۶۲ او د مړو شمېر ۲۵ زره او ۲۰۱ ته رسېدلی، دغه راز جرمني، روسیه، ترکیه، برازیل او ایران په ترتیب سره هغه هېوادونه دي چې د دغه ویروس تر ټولو زیات قربانیان او مثبت پېښې پکې ثبت شوي دي.

بلخوا رویټرز خبري اژانس ویلي چې په برېټانیا کې د مړینو دغه لوړ ارقام ښایي د دغه هېواد پر لومړي وزیر بوریس جانسن باندې سیاسي فشار زیات کړي؛ ځکه هغه د نورو اروپایي مشرانو په پرتله د مارچ په میاشت کې په هېواد کې د کرنتین په اعلانولو کې ځنډ کړی و. په بریټانیا کې د نورو اروپایي هېوادونو په پرتله کروناویروس وروسته خپور شو، خو اوسمهال یې دغه هېواد د ټولې اروپا په پرتله ډېر ځپلی دی.

د یاد هېواد د حکومت مخالفو گوندونو د جانسن د تصمیم په اړه پوښتنې راپورته کړې چې د هېواد کرنتین کول یې په داسې حال کې ځنډولي وو چې په ایټالیا کې په روغتونونو کې د ناروغانو د بستري کولو لپاره ځای نه و.


دوی دغه راز وایي چې د برېټانیا حکومت په عامه توگه د کروناویروس په معایناتو کې ورو عمل کړی او روغتونونو ته یې په کافي اندازه حفاظتي وسایل نه وو برابر کړي.

## د کتـاب خبـري

# د يوويشتمې پېړۍ تجارت

◎ لیکوال: رابرټ کيوساکي
◎ ژباړن: علي‌الله متوکل

### لومړۍ برخه
### د راتلونکي واگې په لاس کې واخله!
### دريیم څپرکی




**د پيسو گټلو څلور لارې**
د پيسو گټلو څلور لارې په ښه روښانه کړو:
**لومړی د E کونج یانې کارگري او مزدوري:**
زموږ زياتره د E کونج زده کوو، لېوالتيا ورسره لرو، ژوند پکې کوو او خپل ټول ژوند مو په دې کونج کې ځای کړی دی.
زموږ پوهنيز نظام او کلتور موږ ته له زانگو څخه تر قبره ښوونه کوي چې څنگه په دې کونج کې ژوند وکړو. دا له ځان سره يوه عملي فلسفه لري چې ما ته مې پلار راښودلې ده. ښايي تاسو ته يې هم ويلي وي چې ښوونځي ته ولاړ شه، سخت درسونه ولوله، ښې نومرې واخله او په يوه لويه کمپنۍ کې په ښه تنخوا کار وکړه.
**دويم د S کونج یانې ازاد کار کول يا کوچنی کاروبار درلودل:**
ډېر خلک د ځاني ازادۍ او ثبات په هيله د کارگرۍ له کونجه د ازاد کار خوا ته ځي. دا هغه ځای دی چې دوی خپل برخليک ټاکي.
په دې کې د زياتو پيسو گټل معلوم دي. د فريلانس کارونو او طبعي منظرو له تصوير اخستلو تر زياتو پيسو گټونکو کارونو لکه وکالت، مشوره ورکولو او وينا کولو پورې ټول په دې کونج کې راځي.
دا توپير نه لري چې ته په ساعت کې ۸ ډالره گټې او که په کال کې ۸۰۰۰۰ ډالره، اصلاً د S کونج د تلک غوندې دی. ته خلکو ته لنډمهاله کارونه کوې. ته يوازې په پرلپسې توگه هغه څوک بدلوې چې تا ته کار درکوي، يانې نن د يوه او سبا د بل تر لاس لاندې کار کوې. ته فکر کوې چې ما ځان د بل تر لاس لاندې کار کولو څخه خلاص کړ؛ خو حقيقت دا دی چې ته اوس هم کارگر يې. کله چې خپل مشر ملامتوې، نو په دې نه پوهېږې چې ستا مشر ته خپله يې.
په دې برخه کې کار کول له ستونزو ډک وي. له هر چا سره به لاس او گريوان يې. د ماليې د تحويل لپاره به څو ورځې منډې وهې. له کارگرو او مشتريانو سره به سرگردانه يې. اّن له کورنۍ سره به په ستونزو کې يې. هغوی به له تا سره مجلس او کېناستل غواړي؛ خو ته به تر غوږو په کارو کې ډوب يې. که هغوی ته وخت ورکړې، نو تجارت او گټه به دې له لاسه وځي.
اصلاً د کار دغه کونج يو ډول غلامي ده. تجارت ستا په لاس کې نه وي؛ ته د تجارت په لاس کې يې.
**د B کونج یانې تجارت درلودل:**
لوی لوی شرکتونه د دې خلکو په مټ جوړېږي. د گټې په برخه کې د دغه او مخکيني کونج توپير دا دی چې ته د تجارت لپاره کار نه کوې، بلکې تجارت ستا لپاره کار کوي. زه ډېر توليدي او د ملکيتونو د پېر و پلور شرکتونه لرم. هغه خلک چې په دغه کونج کې کار کوي، يانې لوی شرکتونه لري، هغوی کله هم له اقتصادي زيان سره نه مخ کېږي، ځکه د گټې د ترلاسه کولو سرچينې يې په خپل لاس کې وي.
**د i کونج یانې پانگونه يا سرمايه گزاري:**
دا دومره سخت کار نه دی. «شتمن پلار» د مونوپلي لوبې په مرسته راوښودل چې په دغه کونج کې و اوسېږم. موږ ټول پوهېږو چې هغه څنگه کار کوي.
مونوپلي: دا لوبه پر خپله تخته باندې کېږي. د لډو لوبې په څېر شپږ اړخيزه د قمار دانه غورځول کېږي او لوبغاړي کوښښ کوي، له مخالف لوري څخه ملکيتونه، کورونه او هوټلونه اخلي او تر هغو لوبه ور سره اوږدوي چې هغه يې ښه ديواليه کړی نه وي. دا يوه نړيواله لوبه ده، په ۱۰۳ هېوادونو کې د جواز لايسنس ورکول شوی دی او په ۳۷ ژبو ژباړل شوې ده. (ژباړن)
**د دندې بدلول د پيسو موندلو د کونج د بدلولو په مانا نه دي:**
زه به يې لږ درته روښانه کړم چې ولې د پيسو گټلو په هر لاره ځان پوهول اړين دي. څو ځله مو داسې خلک ليدلي چې له خپلو دندو شکايت کوي او بيا چې دنده بدله کړي، څو کاله وروسته له دې دندې هم سر ټکوي.
**له دې خلکو به مو دغه مايوسه کونکي جملې اورېدلې وي:**


- چې هرڅومره سخت کار وکړم، بيا هم پرمختگ نشم کولای.
- هر ځل چې يو څه اضافه پيسې پيدا کړم، په ماليه يا عبث مصارفو رانه ولاړې شي.
- غواړم يو نوی کار وکړم؛ خو د زده کړو پيسې نه لرم او د ژوند په دې برخه کې د يوې نوې دندې د زده کړې لپاره هم چمتو نه يم.
- دنده، مشر او ژوند مې ټول خراب دي.

دا او دې ته ورته مايوسه کونکې خبرې هغه خلک کوي چې د بل لپاره د کارکولو په تلک کې را گير وي. اصلاً دوی د دندې په تلک کې نه دي بند، بلکې د پيسو گټلو غلط کونج يې انتخاب کړی دی. ستونزه داده، کله چې خلک د ژوند د تغييرولو اراده وکړي، نو غواړي يو نوښت وکړي. دوی يوازې دنده تغيير کړي. که غواړئ په ژوند کې تغيير راولئ، نو د دندې پر ځای مو د پيسو گټلو کونج تغيير کړئ.
**دوام لري...**

# کاروبار

◄ اکسوس کتابپلورنځی

معمولاً کار پنځوونکي د کار په پيل کې د زياتې انرژۍ درلودونکي وي او غواړي هر څه په ډېرې چټکۍ سره پر مخ بوځي، خو له يو څه وخت وروسته يې پام کېږي، ډېر کارونه شته چې لا يې نه دي تر سره کړي؛ ځکه يا يې وخت نه دی ورته پيدا کړی او يا يې هم د تر سره کولو وړتيا نه لري. يا دا چې پانگه يې کمه ده او نشي کولی د هرې برخې لپاره ځانگړی کس پر دنده وگوماري، هغه ده چې يو څه ناهيلي کېږي او ډېری وخت يې د ماتې لامل هم کېږي.
دا هغه څه دي چې د کوچني کاروبار لرونکي ارو مرو ورسره مخ کېږي او يوه طبعي پېښه ده. د دغو کارونو د ترسره کولو لپاره يوه ښه لار اړوندو شرکتونو او متخصصو کسانو ته د کارونو سپارل دي.
**۱- بازارموندنه**
که غواړې کاروبار مو پرمختگ وکړي، بازارموندنه يې بايد يوه برخه وي. په کوچني کاروبار کې بازارموندنه هغه څه ده چې بايد ځانگړي کس، رسنۍ او يا هم اړوند يوه شرکت ته وسپارل شي، څو په ښه ډول يې ترسره کړي. نن سبا چې د اړيکو او انټرنېټ نړۍ ده، نو بازارموندنه يې هم د پخوا په پرتله اسانه کړې ده. که تاسو د خپلو محصولاتو ځينې نمونې هغو وېب سايټونو ته وسپارئ، چې د همدې برخې لپاره جوړ شوي، نو وبه گورئ چې په پرله پسې توگه به درته خلک په انلاين ډول د توکو د پېرلو غوښتنې استوي. که مو کاروبار نوی پيل کړی وي، نو اړتيا نشته چې خپلې پيسې بې ځايه ولگوئ، څو پېرودونکي را جذب کړئ. هڅه وکړئ چې دغه کار د همدې برخې اړوند شرکت ته وسپارئ، ځکه ډېر کله گټه په تاوان کېږي.
**۲- د وېب پاڼې جوړول**
لکه څه ډول مو چې مخکې ووېل، نننۍ انلاين نړۍ ده. د يوې ښې او هر اړخيزې وېب پاڼې جوړول مو د کاروبار په پراختيا او پرمختگ کې مرسته کوي. د (ورډ پرس) طراح بيل اريکسون وايي، د يوې ښې وېب پاڼې جوړول لږ تر لږه ۱۴ اونيو وخت ته اړتيا لري. که د کاروبار څښتن خپل دری نيم مياشتنی وخت د يوې ښې وېب پاڼې پر جوړولو تېر کړي، نو نور اړين کارونه به يې څوک ورته کوي؟ ښه ده چې دغه کار له دفتره بېرون اړوند او متخصص کس ته وسپاري.
**۳- د عکسونو او ويډيو اخيستل**
عکسونه او ويډيو د عوايدو د زياتوالي او کاروبار د پرمختگ لپاره نن سبا تر ټولو اړين دي. خو که دغه څه په غير مسلکي توگه تر سره شي، د عکس او ويډيو کيفيت خرابوي، نه يوازې دا چې کاروبار به مو پرمختگ ونه کړي، بلکې منفي اغېز پرې کوي. د عکسونو او ويډيوگانو لپاره بايد پرمختللي کمرې ولری. دغه راز د عکسونو او ويډيوگانو د اېډېټ او ډيزان لپاره ځانگړي کمپيوټر او يوه متخصص کس ته هم اړتيا ده. دا چې ستاسو کاروبار کوچنی دی، د دې برخې لپاره د متخصص کس نيول، ځانگړي کمپيوټر او لوړ قېمت کمرو اخيستل څه اسانه کار نه دی، نو ښه ده چې دغه کار هغه شرکت ته وسپارئ، چې په همدې برخه کې اړين توکي او ځانگړي کسان لري. کېدای شي د يوې قېمتي کامرې په بيې تاسو خپل د څو مياشتو کارونه پر دغه شرکت تر سره کړی.




**۴- د ټولنيزو شبکو مديريت کول**
ټولنيزې شبکې نن سبا د کاروبار په پرمختگ کې مهم رول لوبوي. خو په دغو شبکو کې ستاسو د کاروبار اړوند معلوماتو خپرول، کومنټ او پيغام ته ځواب ورکول کېدای شي ستاسو ډېر قېمتي وخت ونيسي؛ ځکه تاسو ډېر نور کارونه هم لری، چې بايد تر سره يې کړی. شته داسې کسان او شرکتونه چې کولی شي د ورځې په اوږدو کې په دوامداره توگه ستاسو ټولنيزې شبکې فعالې وساتي او د عوايدو لپاره درته يوه ښه سرچينه وي.
مينه وال کولای شي دغه کتاب پر اکسوس سربېره، د ښار له نورو لويو کتابپلورنځيو هم په مناسب قېمت تر لاسه کړي.



## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

Aksos


| شمېره | د کتاب نوم | ليکوال / ژباړن | بيه |
|---|---|---|---|
| ۱ | حقيقت و آفرينش نظريه يى تکامل | محمد فتح الله گولن/صادق آينه پور | ۱۵۰ ؋ |
| ۲ | جهاد روح و حقيقت آن در اسلام | محمد فتح الله گولن/صادق آينه پور | ۱۵۰ ؋ |
| ۳ | مبانی مديريت بحران | مهدی ابراهيمی نژاد رفسنجانی | ۱۷۰ ؋ |
| ٤ | زندگی پيامبر ما | يوسف قره گل/احمد حسينی مروی | ۱۰۰ ؋ |
| ٥ | نورجاويدان جلد اول و دوم | محمد فتح الله گولن | ٦۰۰ ؋ |
| ٦ | کسير جاودانگی کوزه شکسته | محمد فتح الله گولن | ۱۸۰ ؋ |
| ۷ | هيگل روح رستاخيزی در انديشه و عمل | محمد فتح الله گولن/سهراب عمر | ۲۰۰ ؋ |
| ۸ | درسايه ی ايمان جلد اول و دوم | محمد فتح الله گولن | ۳۰۰ ؋ |
| ۹ | جنبش گولن | هلن رز ايباف/فيروزه درشتی | ۲۰۰ ؋ |
| ۱۰ | تقدير از ديدگاه قران و سنت | محمد فتح الله گولن | ۱۲۰ ؋ |
| ۱۱ | منشور جلد اول و دوم | محمد فتح الله گولن/سهراب | ۳۲۰؋ |
| ۱۲ | در محور ارشاد | محمد فتح الله گولن | ۱۳۰ ؋ |
| ۱۳ | اقتصاد پيژندنه | محمد داود نيازی | ۳۵۰ ؋ |
| ۱٤ | د نړيوالو معاهداتو حقوق | ډاکتر موسی زاده/فضل ولي شيرانی | ۲۵۰ ؋ |
| ۱٥ | د افغانستان د اوبو حقوق | برکت الله اريوبي | ۱۰۰ ؋ |
| ۱٦ | متحده ايالات او د نړۍ ستر قدرتونه | بوزن بيری/روح الله زهير | ۳۰۰ ؋ |
| ۱۷ | ملي امنيت او نړيوال نظام | ډاکتر جليل روشندل/احمد شاه وياړ او عزت بدلون | ۲۷۰ ؋ |
| ۱۸ | ستراتيژيک‌مديريت | فريډ آر ډيويډ/ميراحمد ياد | ۲۷۰ ؋ |
| ۱۹ | کاروبار | محمد داود نيازی | ۲۲۰ ؋ |
| ۲۰ | د کار ستراتيژي | برايان ټريسی/لعل الدين عاطف | ۱۵۰ ؋ |
| ۲۱ | د مغزو کنټرول | فرشاد نجفی پور/لعل الدين عاطف | ۱۵۰ ؋ |
| ۲۲ | عامه تمويل | امان الله، محمد دواد نيازی | ۲۳۰ ؋ |
| ۲۳ | بريالی فکر | جان مکسويل/اسماعيل آشنا | ۲۵۰ ؋ |
| ۲٤ | د کاروبار اخلاق | انډريو گيلير/ميراحمد ياد | ۲۳۰ ؋ |
| ۲٥ | اصول مديريت | علی رضائيان | ۲۵۰؋ |
| ۲٦ | مبانی سازمان و مديريت | علی رضائيان | ۳۵۰ ؋ |
| ۲۷ | اقتصادشهری | نعمت الله اکبری | ۳۲۰ ؋ |
| ۲۸ | سياست و حکومت خاورميانه | حبيب الله ابوالحسن شيرازی، اسلان قربانی شيخ نشين، رضا سيمبر | ۲۰۰ ؋ |
| ۲۹ | مبانی مديريت رفتار سازمانی | علی رضائيان | ۳۵۰ ؋ |
| ۳۰ | شبکه يي دولت | تيمور شاران/سميع الله مجاهد | ۲۵۰ ؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړيکه ونيسئ**

پته: دهبوريو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ — اړيکه: 0202504652 - 0798-98-9696

# د چين ګرم ګڼلو پرځای ښه ده چې له ویروس سره نړیواله مبارزه وشي

لیکنه: هیله؛ د چین نړیوالې راډیو د پښتو څانګې خبریاله




پر چين پړه اچول له کووېډ-۱۹ ويروس سره د نړيوالې مقابلې لپاره هېڅ ګټه نه لري.
د ايران تجربه لرونکي مبصر بوبي نادري ژو ورځې مخکې د چين ميډيا ګروپ له خبريال سره په مرکه کې وويل، په چين کې د کووېډ-۱۹ ناروغۍ د وقايې او کنټرول په کارونو کې مرحله ييز برياليتوبونه تر لاسه شوي او د روغتيا نړيوال سازمان او ډېرو هېوادونو لخوا ستايل شوي دي. ځينو لوېديځو هېوادونو پر چين باندې تورونه لګولي او پړه پرې اچوي او د چين لخوا تر لاسه شوي برياليتوبونه په بېلابېلو بهانو ردوي. اوس دغه ويروس په ټوله نړۍ کې خپور شوی او بېلابېلي خواوې بايد له دې ننګونې سره د مقابلې لپاره خپلمنځي همکارۍ زياتې او پياوړې کړي.
ښاغلي نادري وويل، د يادې ناروغۍ د وقايې او کنټرول په برخه کې د چين تدبيرونه اغېزناک دي او د توليدي او سوداګريزو چارو د عادي کېدو لپاره يې ثابته زمينه برابره کړې ده، خو د لوېديځو هېوادونو ځينې سياستوال او خبري رسنۍ نه يوازې په رښتيني او حقيقي توګه د چين کارونو ته نه ګوري، بلکې پر چين يې بې بنسټه تورونه لګولي او د بدنامۍ هڅه يې کړې ده، د دوی دغه کړنې د يادې ناروغۍ د کنټرول په برخه کې د خپلو تېروتنو پټولو په موخه دي. هغه وويل: ((د امريکا په شمول ځينو لوېديځو هېوادونو د چين په اړه ډېر منفي او دروغجن مالومات خپاره کړل، دا لومړی ځل نه دی او وروستی ځل به هم نه وي. دوی دا نظر نه لري چې د کووېډ-۱۹ ويروس ضد مبارزه د ټولې نړۍ ګډو کوښښونو ته اړتيا لري. دوی د چين ضد دريځ غوره کړی او په مداومه توګه يې پر چين تورونه لګولي، لامل يې دا دی چې دوی نه غواړي دا ومني چې چين د دغه ويروس د وقايې او کنټرول په برخه کې د ليدو وړ برياليتوب تر لاسه کړی او ډېرو اسيايي او افريقايي هېوادونو حتی اروپايي هېوادونو د چين له تجربو څخه په زده کړو سره په خپلو هېوادونو کې د دغه ويروس د خپرېدو حالت ګام پر ګام کنټرول کړی او اقتصادي فعاليتونه يې ورو ورو د عادي کېدو پر لوري روان شوي.
د ځينو لوېديځو هېوادونو سياستوالو په راتلونکو ټولټاکنو کې د خپلو برياليتوبونو لپاره پر واقعيتونو باندې سترګې پټې کړې او د چين په اړه يې د درواغو خپرولو ته مخه کړې ده، د دوی اصلي موخه د يادې ناروغۍ ضد د مبارزې په برخه کې د خپلو تېروتنو پټول دي.))
ښاغلي نادري وويل، امريکا د روغتيا له نړيوال سازمان سره د مالي مرستې ځنډول د ياد ويروس ضد د نړيوالې مبارزې لپاره سم کار نه دی. امريکا د خپلې سياسي غوښتنې او موخې لپاره دغه ډول يواړخيز عمل غوره کړی دی. په چين کې د يادې ناروغۍ د خپرېدو په لومړي وخت کې د دغه سازمان کارپوهانو د دې ناروغۍ په اړه د مالوماتو موندلو لپاره له چين څخه ليدنه کړې ده او وروسته يې نړۍ ته د بيدارۍ په اړه اړوند خبرداری ورکړی دی. ويل کېږي چې چين او د روغتيا نړيوال سازمان پر وخت له نړيوالې ټولنې سره د دغه ويروس مالومات شريک کړي دي.
اوس په چين کې د دغه ويروس د وقايې او کنټرول حالت ثابت دی او اقتصادي چارې د عادي کېدو په حال کې دي. دا نورو هېوادونو ته باور ورکوي چې د ويروس ضد د مبارزې لپاره بايد فعال او اغېزناک تدبيرونه ونيول شي، نو په دې توګه برياليتوب ترلاسه کېدلی شي او د اقتصاد او ټولنې نظم بيا عادي کېدلی شي. په تېرو ځو مياشتو کې تجربې دا ښيي چې يوازې پر نورو نيوکې بايد پای ته ورسول شي او خپلمنځي همکارۍ پياوړې شي، نو دغه نړيوال بحران ته به ماتې ورکړی شي. نوموړي وويل: ((اوس په چين کې اقتصادي چارې د عادي کېدو په حال کې دي، دا د نړيوالې ټولنې له ګډو ګټو سره سمون لري او اروپايي او امريکايي هېوادونه بايد په دې اړه خوشاله اوسي. دوی بايد سمدلاسه د نورو هېوادونو په شان د چين له تجربو زده کړه وکړي. شک نشته چې چين د دې ويروس ضد مبارزه کې د نړۍ لپاره يوه ښه نمونه ګرځېدلی دی. ټوله نړۍ بايد د چين تجربې زده کړي او ورسره دې همکارۍ پياوړې کړي، تر څو دغه شان پېښه يو ځل بيا رامنځته نه شي چې امريکا د دې ناروغۍ د وقايې او کنټرول په برخه کې د خپلې ناکامۍ له امله پر چين او روغتيا نړيوال سازمان پړه اچولې. نړۍ به ښايي په راتلونکې کې له لا زياتو ننګونو او ګواښونو سره مخ شي، نو موږ بايد د دې پېښې له تجربو څخه زده کړې وکړو.))

## ایسپر: په افغانستان کې د سولې هوکړې د پلي کېدو لپاره له ټولو اړخونو سره له نږدې کار کوو



د امريکا دفاع وزير مارک اېسپر ويلي، هېواد يې په افغانستان کې له ټولو لورو سره کار کوي، څو له طالبانو سره د امريکا لاسليک کړی تړون په بشپړه توګه عملي شي.
نوموړي ويلي، د متحده ايالتونو لپاره په افغانستان کې دوه څه مهم دي لومړی دا چې دغه هېواد بيا پر امريکا د بريدونو لپاره د ترهګرو پر ځاله بدل نه‌شي او دويم دا چې د افغانستان مسئله نظامي حل نه‌لري او بايد دا کړکېچ د خبرو اترو له لارې حل شي.
اېسپر زياته کړې چې په دې موده کې طالبانو تاوتريخوالی نه دی کم کړی، خو پر امريکايي ځواکونو يې بريد هم نه دی کړی او امريکا به د افغان سولې په پروسه کې د خپلو شريکانو ملاتړ ته دوام ورکړي.
هغه زياته کړې: «موږ به له دواړو لورو (حکومت او طالبانو) سره په دې اړه چې د تړون د بشپړ عملي کېدو لپاره کوم کار ته اړتيا ده، خبرو اترو ته دوام ورکړو. تر اوسه د طالبانو له‌خوا تاوتريخوالی نه دی کم شوی. له بلې خوا هغوی پر موږ بريدونه نه دي کړي. اوس بايد د افغانستان حکومت يوې هوکړې ته د رسېدو لپاره ځان چمتو کړي».
دا په داسې حال کې ده چې د امريکا د روان کال د فبرورۍ په ۲۹مه په دوحه کې له طالبانو سره د سولې تړون لاسليک څو په پايله کې يې بين‌الافغاني خبرو ته لاره هواره او اوربند وشي.
دا تړون چې څه باندې دوه مياشتې مخکې لاسليک شوی چې له مخې يې بايد بين‌الافغاني خبرې د مارچ په ۱۰مه پيل شوې وی، خو د اختلافانو له کبله دا لړۍ تر اوسه نه ده پيل شوې.
طالبانو د خپلو پنځو زرو زندانيانو خوشې کول د شرط په توګه وړاندې کړي او افغان حکومت بيا په يوه وخت د پنځه زره طالب زندانيانو له خوشې کولو ډډه کوي. ولسمشر غني يې په بدل کې د ۱۵۰۰ طالب زندانيانو د خوشې کېدو امر کړی او د نورو خوشې کول يې په اوربند او د طالبانو او افغان دولت ترمنځ د خبرو په پيل پورې تړلي دي.
افغان حکومت وايي، تر اوسه‌يې ۷۴۸ طالب زندانيان له بند خوشې کړي. طالبانو يې هم په مقابل کې ۱۱۴ حکومتي بنديان چې د طالبانو په وينا سرتېري وو، له خپلو زندانونو خوشې کړي دي.
په دوحه کې د طالبانو د سياسي دفتر غړي او وياند سهيل شاهين د دوشنبې په ورځ پر خپل ټويټر وليکل، په تېرو درې ورځو کې د دې ډلې ۳۰۰ زندانيان د حکومت له زندانونو خوشې شوي دي. د شاهين په وينا طالبان د دې کار هرکلی کوي، خو کافي يې نه بولي او دا پروسه بايد نوره هم چټکه شي.

## ملي امنيت شورا: که د سولې خبرې ژر پیلېږي، نور طالب بنديان به هم آزاد شي



ملي امنيت شورا وايي، که د سولې خبرې ژر پيلېږي، نور طالب بنديان به هم آزاد شي. د ملي امنيت شورا وياند جاويد فيصل ويلي چې تر دې دمه سلګونه طالب بنديان د ولسمشر غني د فرمان پر اساس د هغوی عمر، روغتيايي وضعيت، او د بند پاتې مودې ته په پام سره ازاد شوي دي.
ملي امنيت شورا همدارنګه له طالبانو څخه هم غوښتي چې د سولې مخامخ خبرو پيلېدو په موخه د افغان حکومت بنديان هم ژر تر ژره خوشې کړي.
فيصل ويلي: «طالبان بايد له ځنډ او ځنډ پرته د دولت د لست مطابق د افغان ملي امنيتي ځواکونو غړي چې برمته کړي دي، خوشې کړي ترڅو مخامخ خبرې پيل شي. که د سولې مخامخ مذاکرات ژر پيلېږي، امکانات يې شته چې نور زندانيان هم آزاد شي.»
افغان حکومت وايي تر دې دمه يې ۸۵۰ طالبان له زندانونو خوشې کړي او ټاکل شوي چې ٦۵۰ نور هم په تدريجي ډول ازاد شي.
دا په داسې حال کې ده چې ولسمشر غني د تېر ۱۳۹۸ کال د کب مياشتې پر ۲۰مه د سولې په خبرو کې د پرمختګ او کرونا ويروس سره د مبارزې په هدف د ۱۵۰۰ طالب بنديانو د ازادولو فرمان ورکړ.
طالبانو هم د افغان حکومت لخوا د خپلو سلګونو بنديانو د ازادېدو هر کلی کړی او د دغه لړۍ د چټکېدو غوښتنه يې کړې ده. طالبانو د خوشې کېدو لړۍ ته دوام ورکوي. د طالبانو د قطر دفتر وياند سهيل شاهين پر خپل ټويټر ليکلي، چې تېره ورځ يې په کندهار ولايت کې د افغان حکومت ۲۰ سرتېري له زندان څخه خوشې کړي دي.
د ملي امنيت شورا وياند جاويد فيصل د تيرې شنبې په ورځ وويل چې طالبانو تر دې مهاله ۱۰۷ زندانيان حکومت ته سپارلي چې يوازې ۵۸ يې د امنيتي او دفاعي ځواکونو غړي دي.
د افغان حکومت له زندانونو څخه د پنځو زرو طالب بنديانو او د طالبانو له بند څخه د زرو تنو حکومتي زندانيانو خوشې کول، د امريکا-طالبانو ترمنځ د تړون يوه برخه ده چې څه موده مخکې په قطر کې لاسليک شو.
د بنديانو د خلاصولو د بهير تر پای ته رسېدو وروسته ټاکل شوې وه چې بين الافغاني خبرې پيل شوې وای، خو اوسمهال د يادو مذاکراتو د پيلېدو څرک نه ليدل کيږي.

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷٦,۳۰ |
| € | ۸۲,۳۰ |
| Rp. | ٤۷۷ |
| ₹ | ۹۰۰ |
| ¥ | ۱۰,٦۰ |
| £ | ۹۲ |

### بېړنۍ شمېرې

پوليس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزير محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتيايي مرکز
166

مسير ورځپانه
مسوول مدير: اسدالله وحيدي
مرستيال: شفيق اميرزی
اېډيټران: جواد تيموري او امان الله حنيفي
خبريالان: حميدالله حميدي، حکمت آرين
او حشمت الله نوري
ګرافيک او ډيزاين: ارمان
چاپخونه: وايګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

وایگل چاپ
WAYGAL Printing Co.
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایگل چاپ کې تجربه کړئ!
STAY HOME
STAY SAFE
+93 (0) 202 51 2626
+93 (0) 782 98 96 96
waygalprinting.co@gmail.com
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

چهارشنبه د ۱۳۹۸ د غويي ۱۷مه | د ۲۰۲۰ د مي شپږمه |۵۳۶مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۵ | ۳۵ | ۳۵ | ۳۳ | ۳٤ | ۲۹ |
| ۱۲ | ۱۷ | ۱۹ | ۲۰ | ۲۰ | ۱۷ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۲۳ | لمر ختل ۰٤:۵۸ | ماسپښین ۱۱:۵۱ | مازیگر ۰۳:۳۵ | ماښام ۰٦:٤۹ | ماخوستن ۰۸:۱۸

چهارشنبه ۱۳۹۹/۲/۱۷
د سهار اذان ۰۳:۲۳ د ماښام اذان ۰٦:٤٦
رمضان کریم

## مجروح: اگر مردم توصیه های وزارت صحت عامه را رعایت نکند، فاجعه بار خواهد بود

از مجموع ۲۰۰ بستر شفاخانه محمد علی جناح در کابل، به تعداد ۱۰۰ بستر آن به منظور تجرید بیماران مصاب به (کوید-۱۹)، اختصاص داده شد.

قابل ذکر است که شفاخانه محمد علی جناح در کابل موقعیت دارد و دارای ۲۰۰ بستر می باشد؛ اما در حال حاضر ۱۰۰ بستر آن به خاطر تجرید و تداوی بیماران مصاب به ویروس کرونا، اختصاص یافته است.

بر بنیاد معلومات وزارت صحت عامه، در صورت نیاز، امکان بلند بردن ظرفیت و فعالسازی ۱۰۰ بستر دیگر در این شفاخانه در مدت ۴۸ ساعت نیز امکان پذیر است. وحید مجروح، معین عرضه خدمات صحی وزارت صحت عامه که دیروز در مراسم افتتاح شفاخانه صحبت میکرد، گفت که این شفاخانه دارای لابراتوار، اکسری، اتاق های مجهز (آی سی یو) و غیره تجهیزات می باشد و نیاز نیست که مریض به کدام مرکز صحی دیگر انتقال شود. وی، با بیان این که وزارت صحت، وسعت فاجعه را متصور است افزود: «در کنار افتتاح چهارمین شفاخانه کوید- ۱۹، برنامه جدیدی را به حمایت بانک جهانی و بانک انکشافی ۱۰۳۰ بستر (آی سی یو) در ۳۴ ولایت کشور تاسیس می شود و بر اساس هدایت جدید رئیس جمهور، ۱۰۰ هزار بستر در ۳۴ ولایت مد نظر گرفته شده است.»

موصوف، هشدار داد که اگر مردم توصیه های وزارت صحت عامه را جدی نگیرند، در تمام خانه ها بستر گذاشته شود، با آن هم پاسخگو فاجعه نخواهد بود.

معین عرضه خدمات صحی وزارت صحت عامه، از شهروندان خواست که نکات صحی و توصیه های این وزارت جدی بگیرند تا نیاز به ۱۰۰ هزار بستر نشود.

وی، از بلند رفتن ظرفیت آزمایش در مراکز صحی کشور خبر داده و می گوید که ظرفیت آزمایش در حدود ۲۵۰۰ در روز رسیده است.

### نړۍ




## برېټانیا د دغه ویروس د قربانیانو له پلوه د اروپا لومړی او د نړۍ دویم مخکښ هېواد شو

## یونیسف: د ۱۹ میلیونه بې ځایه شویو ماشومانو ژوند له جدي ګواښ سره مخ دی

د ماشومانو لپاره د ملګرو ملتونو وجهي صندوق یا یونیسف ویلي، تېر ۲۰۱۹ ز کال د جګړو، تاوتریخوالي او طبیعي پېښو له کبله د کورنیو بې ځایه شویو په ډله کې ۱۹ میلیونه ماشومان هم شامل دي. دې اداري تېره ورځ په یوه راپور کې ویلي چې دغو ماشومان نورو ستونزو ترڅنګ د کرونا ویروس له جدي ګواښ سره هم مخ دي. د یونیسف اجرایوي مشرې هنریتا فوره له مرستندویو هېوادونو او بنسټونو غوښتي چې د دغو ماشومانو د د ژوند د خوندیتوب لپاره دې جدي اقدامات وکړي. د یونیسف دغه راپور «په کور کې ورک شوي» نومېږي او هغو ګواښونو او ننګونو ته یې پام اړولی چې کورني بې ځایه شوي ماشومان ورسره مخ دي. دې اداري د ماشومانو د خوندي ساتنې لپاره د بیړنیو اقداماتو غوښتنه کړې ده. د یادې اداري د راپور له مخې، د تېر کال په وروستیو کې دوولس میلیونه کسان کډوالۍ ته اړه شوي دي. د سرچینې په خبره، له دې شمېرې یې ۲.۸ میلیونه د جګړو او تاوتریخوالي او ۸.۲ میلیونه نور یې بیا د طبیعي پېښو او ناسمو اقلیمي شرایطو له کبله له خپلو سیمو بې ځایه شوي دي. یونیسف دغه راز ویلي، کورني بې ځایه شوي ماشومان لومړنیو خدماتو ته ډېر لاسرسی نه لري او د تاوتریخوالي، ناوړه استفادې او قاچاق له له جدي ګواښ سره مخ دي.

## راپورونه: د سوریې پر خاوره د اسراییلو په تازه بریدونو کې ۱۴ ایراني پلوه ملېشې وژل شوې دي



د سوریې د بشري حقونو د څار لندن مېشتې ډلې ویلي، چې د سوریې پر خاوره د اسراییلو په تازه بریدونو کې ۱۴ ایراني او عراقي ملېشې وژل شوې دي. د سرچینې په خبره، دغه کسان د دیرالزور په ختیځ کې وژل شوي او لسګونه نور ټپیان شوي دي.

د فرانسې خبري اژانس او اسوشیټېډ پرېس د سوریې د بشري حقونو د څار ډلې په حواله ویلي چې یو شمېر نور کسان ټپیان هم دي او ښایي د تلفاتو شمېر زیات شي.


دا په داسې حال کې ده چې اسراییل له کلونو راهیسې د سوریې د متحدو ایراني ملېشو پوځي اډې، د سوریې مرکزونه او د بشار اسد د رژیم متحدین په نښه کوي.

په ورته وخت کې د سوریې رسنیو هم د دغه هېواد پر خاوره د اسراییلو تازه بریدونه تأیید کړي دي. د سوریې دولتي رسنیو ویلي، چې اسراییلو ورمه شپې ناوخته د حلب په ښار کې یو تحقیقي مرکز او یوه پوځي اډه په توغندیو ویشتلې ده.

دا په تېرو دوو اونیو کې د سوریې پر خاوره د اسراییل پنځم برید دی. د سوریې سانا خبري اژانس بیا ویلي چې د پوځ دافع هوا د حلب په ختیځ کې د السفیره پر پوځي اډې د راکټونو مخه نیولې ده.

### ژوند

## مصنوعي رڼاګانې د خوب کیفیت خرابوي




بې خوبي او په خوب کې ګډوډي؛ نن ورځ پر یوې جدي ستونزې بدله شوې او له امله یې جسمي، رواني او نورې روغتیایي ستونزې رامنځته کېږي او له بله اړه پر ورځني کار هم ناوړه اغېز کوي.

تازه څېړنه وایي، هغه کسان چې د کولراډو له کانو په یوه ډک غره کې یې د تفریح لپاره خېمه وهلې وه، له هغه وخت څخه دوه نیم ساعته مخکې ویده کېدل، کوم چې عموما په خپلو کورونو کې د شپې له خوا ویده کېدل. دوی په دغه غره کې د شپې لس ساعته ارام خوب کاوه. څېړونکي وایي، د دغه خوب دلیل ډېر روښانه دی او داسې یو څه دي چې بیا بیا مو اورېدلي او هغه (ټکنالوژي) ده. په معاصره نړۍ کې ژوند کول موږ نه یوازې پرله پسې مصنوعي رڼا او څراغونو ته مخ کوي، بلکې اوس خو له خپلو ټلیفونونو هم خلاصی نه لرو.

## په روژه کې له اندازې زیات خوراک د ناروغیو لامل کېږي

په روژه کې له اندازې زیات خوراک د ډېرو ناروغیو لامل کېږي، لکه د خوړو نه هضمېدل، د معدې جوش، په نس کې ګاز او بدن ته پوره انرژي نه ورکول. د روژه ماتې پر مهال که څه هم روژه نیوونکي پر دغو شیانو پوهېږي، خو بیا هم د ټولې ورځې لوږې ترې دا احساس ورک کړی وي چې په پای کې یې د ناروغۍ لامل کېږي، نو په روژه کې له ډېر خوراک څخه ځان ساتنې لپاره باید څه وکړو؟

که له زیات خوراک څخه د ځان ژغورلو پلان لرئ، نو اوبه ډېرې وڅښئ. د خوراک پیل په کوچني شي وکړئ. کوښښ وکړئ چې د روژه ماتې پیل پر خرما وکړئ او له خرما وروسته یوه شېبه انتظار وباسئ؛ ځکه چې



خرما ستاسې لوږه کموي. ژر ژر خوراک مو زیات خوراک ته اړ باسي، نو ښه ده چې خواړه ورو ورو وخورئ. په ورو خوراک سره په خوله کې خواړه ښه میده کېږي او په معده او د هاضمې پر سیستم بوج نه راولي، چې په پای کې د کم خوراک لامل کېږي.

ماستر ډبټ کارت
د عزیزي بانک ماستر ډبټ کارت له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتیاوو او شرایطو سره سم ډیزاین شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پیسو ته لاسرسی لرلی شئ.
• په ټوله نړۍ کې له 25 میلیون ډېرو سوداګریزو مرکزونو/پلورنځیونو کې د منل کېدو وړتیا لري.
• د دې لپاره چې ژر پیسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشینونو څخه اخیستلی شئ.


1515 www.azizibank.af
عزیزي بانک
Azizi Bank